مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غويي لومړی | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۱ | ۷۱۱مه ګڼه

# په ټپه ولاړ مذاکرات؛

## د جګړو له شدت سره همهاله ملکي مرګ ژوبله هم لوړه شوې ده



۳

### د استانبول غونډه کېږي؟

۲ مخ

### پاکستان له افغانستانه د امریکایي ځواکونووتلو ته په کومه سترګه ګوري؟

۲ مخ

### د افغانستان جګړه امریکا ته څومره ګرانه پرېوتې؟

۳ مخ

## لوېديځې رسنۍ: د افغانستان وضعیت اندېښمنوونکی دی، افغانان دې سره یو لاس شي

افغانانو ته په کار ده چې د خپل هېواد د ژغورلو لپاره سره یو لاس شي. د افغانستان لپاره د بلغاریا پخواني سفیر دې هېل نشریې ته په یوه استولې مقاله کې لیکلي، چې نړیوالو په تېرو شلو کلونو کې له افغانستان سره په بېلو برخو کې همکاری کړې او اوس د دې وخت دی چې بهرني ځواکونه له دغه هېواد ووځي. په دې مطلب کې د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته د افغانستان د وضعیت په اړه اندېښنه ښودل شوې او زیاته کړې یې ده چې ښايي طالبان جګړو ته ادامه ورکړي او په افغانستان کې اوسنۍ لاس ته راوړنې له خطر سره مخ کړي. د مطلب لیکوال پر افغانانو غږ کړی، چې په دې حساسو شرایطو کې د سیاسي او نورو مخالفتونو پر ځای سره یو ځای شي او د خپل هېواد د ژغورلو لپاره دې په ګډه هڅه وکړي.

له دې سره جوخت، نشنل انټرسټ خپرونې په یوه لیکنه کې ویلي، چې له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو د ایستلو پرېکړه یوه زړوره پرېکړه وه. په لیکنه کې راغلي، افغان جګړې او له دغه هېواد څخه د سرتېرو ایستلو د امریکا درې ولسمشران له ننګونو سره مخ کړي وو، خو بایډن چې زوی یې د پوځ مامور و، مسائلو ته متفاوت لیدلوری لري.

لیکنه دغه راز کاږي چې اوس امریکایان تر ترهګرۍ ډېر له نورو مسائلو ځورېږي او دا هغه څه وو چې بایډن ته یې زړه ورکړ، څو هغه پرېکړه وکړي چې تر ده وړاندې درې ولسمشران یې حیران کړي وو.


## د بې پولې خبریالانو ټولنه: افغانستان لا هم د خبریالانو لپاره تر ټولو خونړی هېواد دی



۵ مخ

کتاب
۴ مخ

## د کاروبار پیل




د کاروبار پیل کتاب د هغو کسانو لپاره دی چې د کاروبار پیلولو هوډ لري؛ خو نه پوهېږي دا چاره څنګه شونې کړي. دا کتاب د هغه چا لپاره نه دی چې په تنخوا د کار کولو فکر ورسره وي، بلکې د هغه چا لپاره دی چې غواړي خپل کاروبار جوړ کړي او شتمن شي.

## سوداګرۍ وزارت: ډېر ژر به د هوايي دهلېزونو له لارې د افغان غالیو صادرات بیا پیل شي




د سوداګرۍ او صنایعو وزارت وايي، ژر به د هوايي دهلېزونو له لارې بهرنیو هېوادونو ته د افغان غالیو صادرات بیا پیل شي.

د یاد وزارت ویاند فواد احمدي زیاته کړې چې د بودجې د کمښت له کبله د هوا له لارې صادرات په ټپه دربدلي وو، خو ډېر ژر به دغه بهیر بېرته پیل شي. هغه ویلي: «له یو لړ هڅو وروسته اوس تمه ده بېرته له هوايي دهلېزونو د غالیو د صادراتو لپاره زمینه برابره شي. له هغه ور هاخوا د لاجورد، چابهار او هم د ازبېکستان، ایران او پاکستان له لارې بهر او اروپايي هېوادونو ته د غالیو صادرات روان دي.»

احمدي ویلي، ژر به د سوداګرۍ وزارت له مخې، د غالیو سکتور ته د یوه ٦ سلیزه تشویقي سبسایډي ورکول پرانېستل شي. له دې مخکې د غالیو صادروونکو ادعا کوله چې د هوا له لارې د صادراتو په دربدو سره د غالیو په صادراتو کې نوي سلنه کمښت راغلی دی.

## صلیب سرخ: بیش از ۱۳ میلیون نفر در افغانستان با کمبود مواد غذایی روبه‌رو هستند



فدراسیون بین‌المللی صلیب سرخ و جمعیت‌های هلال احمر اعلام کرده‌اند که یک‌سوم جمعیت افغانستان در سال جاری میلادی (۲۰۲۱) به دلیل خشک‌سالی با کمبود مواد غذایی روبه‌رو خواهند بود. این نهادها خواهان اقدامات فوری برای جلوگیری از بحران ناشی از خشک‌سالی و گرسنه‌گی در افغانستان شده‌اند. در اعلامیه فدراسیون بین‌المللی صلیب سرخ و جمعیت‌های هلال احمر آمده که خشک‌سالی و بحران غذایی، از «بدترین» مشکلات دهه‌های اخیر افغانستان بوده است و ۱۳.۱ میلیون نفر براساس آخرین آمارها با کمبود مواد غذایی دست‌وپنجه نرم می‌کنند. این اعلامیه روز سه‌شنبه، سی‌ویکم حمل نشر شد. طبق اعلامیه، این بحران حاد امنیت غذایی، مشکلات اجتماعی و اقتصادی را که میلیون‌ها نفر در افغانستان به دلیل همه‌گیری کرونا با آن روبه‌رو بودند، در هم می‌آمیزد. نیلاب مبارز، سرپرست جمعیت هلال احمر افغانستان گفته است که نگران وخیم‌تر شدن تأثیرات خشک‌سالی در بسیاری از مناطق، کمبود محصولات غذایی و فعالیت‌های اقتصادی فلج شده و سرانجام کاهش درآمد اساسی مردم است. هلال احمر گفته که با صدور درخواست کمک اضطراری برای حمایت از هلال احمر افغانستان اقدام کرده است تا برای ۲۱۰ نفر در ده ولایت مواد غذایی تهیه کند. پیش‌بینی شده است که در سال ۲۰۲۱ محصولات گندم افغانستان حدود ۲۷ درصد کاهش یابد. فدراسیون بین‌المللی صلیب سرخ و جمعیت‌های هلال احمر خواستار اقدام فوری برای کمک به مردم افغانستان شده‌اند.



کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرليکنه

# د استانبول غونډه کېږي؟

ټاکل شوې د افغانستان د سولې په تړاو د اپرېل په ۲۴مه په استانبول کې غونډه وشي، خو په غونډه کې له ګډون څخه د طالبانو انکار د دې سبب شوی چې ښايي دا غونډه په ټاکل شوي وخت ونه شي. دا غونډه د مارچ په ۲۷مه پلان شوې وه، چې بيا د اپرېل ۱۶مې ته وغځېده، خو د اپرېل په ۱۶مه هم جوړه نه شوه او ترکي چارواکو وويل چې غونډه به د اپرېل په ۲۴مه کېږي. په دې منځ کې طالبانو اعلان وکړ چې د بهرنيو ځواکونو تر وتلو پورې به په هېڅ داسې غونډه کې برخه نه اخلي چې د افغانستان په تړاو پکې پرېکړه کېږي. له دې سره امريکا هم اعلان وکړ چې ځواکونه به يې تر مې نه، بلکې تر سپټمبر مياشتې پورې له افغانستان څخه وځي.

اوس پوښتنه دا ده چې د استانبول غونډه کېږي او که کېږي، همغسې به وي، لکه چې په اړه يې ويل کېدل او که نه بدلون به پکې راځي؟

د استانبول غونډه د طالبانو د دريځ له امله ځنډېدلې ده. طالبان وايي وو چې امريکا ورسره هوکړه کړې ده او چې په هوکړه عمل ونه کړي، نو دوی په دې غونډه کې برخه نه اخلي. په هوکړه کې له طالبانو سره درې لويې ژمنې شوې وې چې له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو وتل، له تور لېسته د طالب مشرانو ايستل او د بنديانو خلاصون پکې شامل دي. بهرني ځواکونه وځي، خو په ځنډ او طالبان ډېر ډاډمن نه دي چې دا کار به کېږي. له تور لېست څخه د طالب مشرانو د نومونو په ايستلو کې هېڅ کار نه دی شوی. پينځه زره طالب بنديان خوشې شوي، خو اته زره نور لا هم په زندانونو کې دي او په دې برخه کې هم کوم پرمختګ نه دی شوی. اوس طالبان فکر کوي چې که دا کار ونه شي او دوی د ترکيې په غونډه کې ګډون وکړي او يوې پايلې ته ورسېږي، نو ښايي چې دا ژمنې بيا وروسته هم پوره نه شي. له همدې امله په دې غونډه کې له ګډون څخه يې تر اوسه پورې انکار کړی دی.

پر طالبانو ډېر فشارونه دي چې د استانبول غونډې ته ورشي او ښکاري چې طالبان به تمايل هم وښيي. طالبانو اوس منلې چې له امريکا، ترکيې او قطر سره يې خبرې روانې دي چې په غونډه کې د ګډون لپاره يوې پايلې ته ورسېږي. که طالبانو ته يو څه ډاډ ورکړل شي او په ځينو برخو کې ورته امتياز ورکړل شي، نو ښايي طالبان خپله پخوانۍ پرېکړه بېرته واخلي او د استانبول په غونډه کې ګډون وکړي. که د بنديانو د خوشې کولو او له تور لېسته څخه د طالب مشرانو د ايستلو په برخه کې يو څه پرمختګ وشي او طالبان د بهرنيو ځواکونو د وتلو په برخه کې ډاډ تر لاسه کړي، نو ښايي چې د استانبول په غونډه کې ګډون وکړي. خو دا هر څه وخت ته اړتيا لري.

نو پر دې اساس د استانبول غونډه کېدونکې ده، خو بيا به هم ځنډېږي او په ټاکل شوې نېټه يې کېدل ستونزمن ښکاري. له بله اړخه که دا غونډه کېږي هم، ښايي هغسې برخليک ټاکونکې نه وي، لکه له وړاندې يې چې تمه کېدله، ځکه چې طالبان بيا هم پرېکړې د بهرنيو ځواکونو تر وتلو پورې ځنډوي.

# پاکستان له افغانستانه د امريکايي ځواکونو وتلو ته په کومه سترګه ګوري؟

شمايله جعفري

د امريکا ولسمشر جو بايډن وايي، د سږ کال سپټمبر تر ۱۱مې پورې ټول امريکايي ځواکونه له افغانستانه باسي. پاکستان دغه موضوع په غور څاري. پاکستان په هغو هېوادونو کې شامل دی، چې له دې پرېکړه پرې ډېر اغېز لري. پاکستان وايي، له افغانستانه د امريکايي پوځيانو وتلو موضوع بايد د سولې له خبرو سره غوټه شي. اسلام اباد د سولې پروسې کې مهم رول درلود او اوس يې د امريکايي اعلان هرکلی کړی. د دغه هېواد چارواکي وايي: «د هغې اصولي پرېکړې هرکلی کوي چې افغانستان کې ښکېلو اړخونو په همکارۍ سره په بامسووليته توګه پوځيان ووځي.»

پاکستان هيله مندي ښيي چې امريکا به افغان مشرانو ته په دغه هېواد کې د امکاني سياسي حل ډاډ ورکړي. تېرو کلونو کې پاکستان په پټه خوله له افغان حکومت او نورو سياسي مشرانو سره د ناستې لپاره د طالبانو قانع کولو مهم رول تر سره کړی.

د چارو شنونکي وايي، د اسلام اباد له بشپړ ملاتړ پرته بين الافغاني خبرې شونې نه وې. د ۲۰۱۸ کال په ډسمبر کې پاکستان د واشنګټن او طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو لړ کې مرسته وکړه او بيا د قطر په دوحه کې د دواړو لوريو تر منځ تاريخي هوکړه وشوه.

له دې مخکې د ۲۰۱۵ کال ډسمبر کې د پاکستان په مرسته لومړۍ ځل د افغان حکومت او طالبانو تر منځ اسلام اباد کې مخامخ مذاکرات وشول.

دغه بهير بيا له هغه وروسته په ټپه ودرېد چې طالبانو د خپل مشر ملا محمد عمر مړينه اعلان کړه او د طالبانو تر منځ د مشرتابه پر سر کشمکش پيل شو.

امريکا څو ځله د پاکستان د رول ستاينه کړې. دوی پوهېږي چې له افغانستانه د دوی او دوی د متحدينو له وتلو وروسته به د ۲۰ کلنې جګړې اغېز ساتلو کې د پاکستان رول مهم وي. دغه جګړه کې نږدې ۱۰ ټريليونه ډالر مالي او د ۲۳۰۰ امريکايي پوځيانو د سر زيان اوښتی، چې د دې زيان جبران ممکن نه دی.

ولسمشر بايډن وايي، امريکا به په افغانستان کې د نړيوالو جهادي تنظيمونو مخنيوي لپاره د ژمنې لړ کې «د طالبانو احتساب» وکړي.

نوموړی وايي: «موږ د سيمې نورو هېوادونو او په ځانګړې توګه پاکستان ته ويلي، چې له افغانستان سره د مرستې لپاره نورې هڅې «ډو مور» وکړي.

خو پاکستان کې او د پاکستان اسټېبلشمنټ د «ډو مور» دغه اصطلاح ډېره نه خوښوي، ځکه دوی وايي، په ترهګرۍ ضد جګړه کې ۷۳۰۰۰ پاکستانيان لا مخکې له ژونده محروم شوي دي.

اوس اسلام اباد هڅه کوي چې د سولې خبرې روانې وساتل شي او پرمختګ پکې وشي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت وايي: «پاکستان بيا بيا ويلي چې افغانستان کې سوله زموږ په ګټه ده. موږ به په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره له نړيوالې ټولنې سره همکاري روانه وساتو.»

بل لور ته د چارو شنونکی رحيم الله يوسفزی وايي، امريکا له طالبانو سره له کړې هوکړې سرغړونه کړې او د پوځيانو ايستلو کې يې څلور مياشتې ځنډ راوستی.

دا ځل د «ډو مور» مانا دا ده چې پاکستان د ترکيې په کوربتوب د افغان سولې خبرو کې د طالبانو ګډون باوري کړي. ترکيه کې چارواکي وايي، د دې غونډې هدف دا دی چې له جګړې وروسته د بيارغونې چارې سملاسي پيل شي، چې يو احتمالي سياسي حل ته لار هواره شي.

بل لور ته طالبان د امريکا له لوري له هوکړې سرغړونې ناخوښ کړي دي او په غونډه کې يې د ګډون اعلان نه دی کړی.

رحيم الله يوسفزی وايي، امريکا غواړي چې پاکستان پر طالبانو خپل اغېز وکاروي، چې د پوځونو ايستلو نوې نېټې په هکله رضايت څرګند کړي او د سولې خبرې له ناکامۍ وژغورل شي.

اوس طالبان کولای شي د ترکيې په بين الافغاني خبرو کې د ګډون لپاره خپل شرطونه کېږدي. دوی د بنديانو خوشې کېدو او له تورو ليستونو د خپلو مشرانو نومونو لرې کېدو لپاره فشار واردولای شي، خو له دې سره سره امريکا فکر کوي چې اسلام اباد کولای شي دوی د مذاکرې مېز ته راولي.

د ښاغلي رحيمزي په خبره، پاکستان يوازې دا چاره نه شي کولای، بلکې د ټولو مسووليت دی او ټول ښکېل اړخونه بايد يو رول ولري.

د نوموړي په وينا، پاکستان اوس د پخوا په څېر پر طالبانو اغېز نه لري او طالبانو هم خپله تګلاره بدله کړې ده. هغه وايي: «دوی له ډيپلوماتيکو لارو پر مخ ځي، له څو هېوادونو سره اړيکې لري او اوس په قطر کې سياسي دفتر لري.»

د هغه په خبره، اوس داسې فکر سم نه دی چې يوازې پاکستان کولای شي پر طالبانو د فشار راوستلو مسووليت لري.

«د افغانستان اوسني حالت په هکله پاکستان هم ځينې اندېښنې لري او اسلام اباد غواړي چې د امريکا په ګډون نړيواله ټولنه د پاکستان د دې اندېښنو په هکله غور وکړي. پاکستان غواړي چې د افغانستان خاوره د پاکستان پر ضد ونه کارول شي، د هند اغېز کمولو اړتيا شته او پاکستان کې د مېشت افغان کډوالو ستنېدو موضوع بايد په خبرو کې شامله شي.»

له افغانستانه بې قيد او شرطه د امريکايي ځواکونو ايستلو له اعلان وروسته ځينې شنونکي په دې باور دي، چې بين الافغاني مذاکرات به ډېر ګټور نه وي.

ځينې کسان په دغه هېواد کې د کورنۍ جګړې اندېښنه څرګندوي او وايي، ښايي طالبان به د هغو سيمو کنټرول هم تر لاسه کړي چې اوس يې پکې زور کم دی. دوی وېره ښيي چې ښايي طالبان په افغانستان کې حکومت جوړ کړي.

۱۹۹۶ کال کې چې طالبانو افغانستان کې واک تر لاسه کړ، پاکستان په هغو دريو هېوادونو کې شامل و، چې هغه حکومت يې په رسميت وپېژاند، خو اوس حالت کې بدلون راغلی. پاکستان په څرګنده ويلي چې دوی پر کابل د طالبانو بيا واکمنۍ فکر نه تاييدوي او طالبان له دې څرګندونو خوښ نه دي.

د چارو شنونکی حسن عسکري رضوي وايي، بې شرطه له افغانستانه د امريکايي ځواکونو وتلو له کبله پاکستان له سخت ساعته تېرېږي. نوموړی وايي: «کابل کې چارواکي پر پاکستان باور نه کوي، دوی د خپلې ناکامۍ پړه پر اسلام اباد وراچوي. بل لور ته واشنګټن د سولې په اوسني بهير کې د پاکستان رول مني، خو بيا هم پر پاکستان بشپړ باور نه کوي او طالبان هم اوس د پخوا په څېر پاکستان ته نږدې نه دي، پاکستان له سخت وضعيت سره مخامخ دی.»

پاکستان له تېرو څلورو لسيزو راهيسې سلګونو زرو افغان کډوالو ته هم پناه ورکړې، چې نه يوازې په کمپونو پورې محدود نه دي، بلکې دغه هېواد کې زده کړې کوي، کاروبار کوي او د هېواد په هر ګوټ کې مېشت دي.

پاکستان غواړي نړيواله ټولنه په دې هکله هم غور وکړي او د افغانستان په هکله د خبرو په لړ کې د کډوالو ستنېدلو موضوع هم شامله شي. د امريکايي ځواکونو وتلو له اعلان سره د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت وويل: «پاکستان فکر کوي چې په افغانستان کې د سولې او ټيکاو هڅو لپاره پر خپل وخت د کډوالو ستنېدلو موضوع مهمه ده.»

خو د حسن عسکري رضوي په خبره، د نړيوالو ځواکونو ايستلو له اعلان وروسته کېدای شي په افغانستان کې تاوتريخوالی ډېر شي او په داسې وضعيت کې کېدای شي پاکستان ته نور کډوال هم مخه کړي.

نوموړی زياتوي :«پاکستان د سولې بهير لپاره هڅې کوي، ځکه افغانستان کې سوله او ثبات پاکستان ته ګټه لري، خو دې لړ کې د يوازينۍ لارې موندلو پر ځای د چين، روسيې، ترکيې او ايران په څېر هېوادونو سره اړيکې موندل به غوره تګلاره وي.»

## عامې روغتيا وزارت: له بهره راتلونکي ټول مسافر بايد د کرونا منفي ټېسټ اسناد ولري

په هېواد کې د کرونا د درېيمې څپې د مخنيوي لپاره روغتيا وزارت اعلان کړی، چې ټول کورني او نړيوال او هوايي شرکتونه بايد تر سفر وړاندې له مسافرو د کرونا منفي ټېسټ اسناد واخلي.

د دغه وزارت مرستيال وياند ميرويس عليزي ويلي، دغه پرېکړه د کرونا د درېيمې څپې د مخنيوي په موخه ترسره شوې ده. هغه زياته کړې: «د کرونا درېيمه څپه په هېواد کې پيل شوې نه ده، خو موږ د کرونا د درېيمې څپې تر جدي ګواښ لاندې يو، دا مهال د کرونا ډېرې پېښې په ننګرهار، هرات، ميدان وردګ او کابل کې ډېرې دي.»

د يادونې ده چې په افغانستان کې د کرونا د ناروغۍ له پيله تر اوسه د مثبتو پېښو شمېر۵۸ زره او۳۷ تنو ته رسېږي. همدارنګه د کرونا له امله د مړو شمېر۲۵۵۰ تنو ته رسيږي.



د عامې روغتيا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په منځنۍ ډول هره ورځ له يو نيم زرو تر دوه زرو پنځه سوه کسان په خصوصي او دولتي لابرتوارونو کې د کرونا ټېسټ کېږي چې له دې ډلې له ۸۰ تر۱۲۰ تنو پورې مثبت دي. په ورته مهال د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري وياند محمد نعيم صالحي وايي چې دغه اقدام په ټولو کورنيو او بهرنيو شرکتونو پلی کېږي.

صالحي زياتوي، ټولو شرکتونو ته سپارښتنه شوې، چې تر سفر وړاندې مسافر بايد د کرونا د منفي ټېسټ اسناد ولري. هغه وايي: «د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري ټولو کورنيو او بهرنيو هوايي شرکتونو ته اعلان کړی چې د مسافرو د کرونا منفي ټېسټ اړين دی او هر مسافر چې له بهره راځي، بايد د کرونا د منفي ټېسټ اسناد له ځان سره ولري.»

په افغانستان کې د کرونا ويروس د نوې څپې د خپرېدو اندېښنې داسې مهال راپورته کېږي چې دا ويروس په چټکۍ سره د سيمې او د افغانستان په ګاونډيو هېوادونو کې د خپرېدو په حال کې دی.

# د افغانستان جګړه امريکا ته څومره ګرانه پرېوتې؟

بي‌بي‌سي- پښتو

امريکا د افغانستان د معضلې د حل او د سولې يوې هوکړې ته رسېدو لپاره له طالبانو سره څو مياشتې خبرې اترې وکړې. اوس د امريکا ولسمشر جو بايډن ويلي، د دې وخت را رسېدلی چې د دوی د تاريخ دا تر ټولو اوږده جګړه پای ومومي. موږ دلته د دې مالومولو هڅه کړې چې پر دې جګړه د امريکا څومره لګښت شوی دی.

**امريکا کوم ځواکونه استولي وو؟**

امريکا د ۲۰۰۱ کال اکتوبر کې د دې لپاره د طالبانو پر حکومت بريد وکړ، چې د واشنګټن په وينا اسامه بن لادن او د سپټمبر د يوولسمې د بريدونو نورو طراحانو ته يې پناه ورکړې وه. متحده ايالتونو کرار کرار د طالبانو د ډېريدونکو بريدونو پر وړاندې د مقاومت لپاره افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر لوړ کړ او د بيارغونې پر پروژو يې ميلياردونه ډالر ولګول.

د امريکا د حکومت د شمېرو له مخې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ چې افغانستان کې تر سلو زرو ډېر امريکايي ځواکونه مېشت وو، د دې جګړې کلنی لګښت يو ترليون ډالرو ته رسېدلی و.

تر هغې وروسته چې امريکا خپل پام پخپله د جګړې پر مخ وړلو او يرغليزو عملياتو پر ځای د افغان پوځ روزنې ته واړاوه، نو دا لګښتونه په چټکۍ سره راکم شول.

له ۲۰۱٦ تر ۲۰۱۸ کال پورې افغانستان کې د امريکا کلنی لګښت شاوخوا ۴۰ ميليارد ډالر او په ۲۰۱۹ کال (تر سپټمبر پورې) ۳۸ ميليارد ډالر اټکل شوی و.

د امريکا د دفاع وزارت پر بنسټ دوی (د ۲۰۰۱ کال له اکتوبر د ۲۰۱۹ کال تر سپټمبر پورې) افغانستان کې ټولټال ۷۷۸ ميلیارده ډالره پوځي لګښت درلود.

پر دې سربېره، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت، د امريکا نړيوالې پراختيايي ادارې (يو ايس ايډ) او نورو دولتي بنسټونو افغانستان کې د بيارغونې پر پروژو ۴۴ ميليارده ډالر لګولي دي.

د دغو رسمي شمېرو له مخې، په ۲۰۰۱ کال کې د افغانستان د جګړې له پيل راهيسې تر دې دمه د امريکا ۸۲۲ ميليارد ډالر لګېدلي دي.

خو په دې کې د پاکستان اړوند لګښتونه شامل نه دي، چې امريکا ترې د افغانستان چارو کې د پوځي اډې په توګه ګټه اخيستې.

د براون پوهنتون لخوا ‹د جګړې د لګښتونو› د طرحې اداره کې د تر سره شوې څېړنې پايلې ښيي، چې د امريکا لخوا د افغانستان د جګړې د لګښتونو وړاندې شوې رسمي شمېرې تر اصلي لګښتونو کمې ښودل شوې.

دغه څېړنه وايي، کانګرېس دغو کلونو کې افغانستان او پاکستان کې د عملياتو لپاره ۹۷۸ ميلیارده ډالره بوديجه تصويب کړې ده.

د «جګړې د لګښتونو» د طرحې ګډه مديره نېټا کرورفورډ وايي، په دغو شمېرو کې «له جګړې د راګرځېدلو سرتېرو د پالنې، جګړه ييزو فعاليتونو لپاره پر نورو دولتي ادارو د شويو لګښتونو او همدا راز په پور د اخيستل شويو پيسو د ګټې لګښتونه شامل نه دي.»

**پيسې چېرې ولاړې؟**

د دغو پيسو ستره برخه پر ترهګرۍ ضد عملياتو او د ډوډۍ، جامو، روغتيايي پاملرنې او د ځانګړې تنخوا او حقوقو په څېر د امريکايي ځواکونو په اړتياوو لګېدلې ده.

له رسمي شمېرو ښکاري چې امريکا افغانستان کې د اتلسو کلونو پر مهال د خپلو ټولو لګښتونو يوازې ۱٦ سلنه چې ۱۴۳ اعشاريه ۲۷ ميليارد ډالر کېږي، د بيارغونې په چارو لګولي دي.

د دغو پيسو تر نيمايي زياتې يانې ۸۸ اعشاريه ۳۲ ميلیارده ډالر د افغان ملي اردو او پوليسو په ګډون، د افغان ملي امنيتي او دفاعي ځواکونو په روزنه لګول شوې.

پاتې پيسې هم د حکومتولۍ او زيربناوو د ودې تر څنګ په اقتصادي او بشردوستانه مرستو او د نشه‌يي توکو پر ضد په مبارزه لګول شوې دي.

امريکا له ۲۰۰۲ تر ۲۰۱۹ کال پورې افغانستان کې د نشه‌يي توکو پر ضد په مبارزې نهه ميليارد ډالر لګولي دي.

خو له دې سره سره د ملګرو ملتونو شمېرې ښيي چې په ۲۰۱۷ کال افغانستان کې تر بل هر وخت پر ډېره ځمکه کوکنار کرل شوي وو.

د افغانستان د بيارغونې د څار ادارې په ۲۰۱۷ کال کې ويلي وو، چې تېرو يوولسو کلونو کې د «ناغېړۍ، درغلۍ او ناسم مديريت» له کبله ۱۹ ميلیارده ډالر ضايع شوي دي.

د سيګار په وينا، دا ښايي د ټولو بې ځايه لګېدلو پيسو يوه کوچنۍ برخه وي. دې ادارې همدا راز زياته کړې چې د امريکا د مرسته شوو پيسو د جګړې له پراخېدو، فساد او د وسله والو د ملاتړ له پياوړتيا سره مرسته کړې.

**د دې جګړې انساني لګښت څومره و؟**

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو خلاف د جګړې ډګر ته له وتلو راهيسې د امريکا له ۲۳۰۰ ډېر سرتېري وژل شوي او ۲۰ زره ٦٦۰ نور ټپي شوي دي.

د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۱۹ کال تر سپټمبر پورې افغانستان کې نږدې ۱۳ زره امريکايي سرتېرو حضور درلود، خو ترڅنګ يې شاوخوا ۱۱ زره نور امريکايي وګړي هم وو چې د قرارداديانو په توګه يې کار کاوه.

په دې جګړه کې د امريکايي ځواکونو مرګ‌ژوبله افغان امنيتي ځواکونو او ملکي خلکو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې په پرتله د پام وړ کمه ده.

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني تېر کال منلې وه چې په ۲۰۱۴ کال کې واک ته د ده له رسېدو راهيسې تر ۴۵ زرو ډېر افغان سرتيري وژل شوي دي.

د ولسمشر غني لخوا د مرګ‌ژوبلې اعلان غيرمعمولي و ځکه د افغانستان او امريکا حکومتونو د افغان ځواکونو تلفات نه ښکاره کول. ځينو رپوټونو کې راغلي چې په وروستيو کلونو کې د افغان امنيتي ځواکونو مرګ‌ژوبله ډېره لوړه شوې او کله ناکله د ورځې په منځنۍ کچه له ۳۰ تر ۴۰ سرتيري وژل کېږي.

له دې سره افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه دفتر (يوناما) چې له ۲۰۰۹ کال راهيسې يې په دوامداره توګه د ملکي مرګ‌ژوبلې د شمېرو ثبتول پيل کړي، وايي په دې موده کې له سلو زرو ډېر ملکي افغانان مړه يا ټپيان شوي دي.

# په ټپه ولاړ مذاکرات؛

## د جګړو له شدت سره هممهاله ملکي مرګ ژوبله هم لوړه شوې ده



سره له دې چې په نړيواله کچه په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره هڅې روانې دي، خو تر څنګ يې په هېواد کې جګړې هم شديدې شوې دي. د وروستيو راپورونو له مخې، روانه جګړه هره ورځ ملکي وګړو، افغان ځواکونو او طالبانو ته مرګ ژوبله اړوي او د هېواد په ګوټ ګوټ کې د روانو جګړو له امله وېره په زياتېدو ده. يوازې تېره اونۍ په هېواد کې څه کم اتيا ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. بلخوا په دوحه کې بيا بين الافغاني مذاکرات په ټپه ولاړ دي او دواړو لورو له اونيو راهيسې ليده کاته نه دي کړي.

د دوحې د هوکړې مهم مورد دا و چې طالبان به تاوتريخوالی کموي او تر څنګ به يې بهرني ځواکونه له افغانستان وځي. تر دې دمه امريکا طالبان په دې تورنول چې ګواکې د دوحې هوکړه يې نه ده عملي کړې او تاوتريخوالی يې نه دی کم کړی، خو اوس طالبان وايي چې امريکا پر ژمنه عمل ونه کړ او پر ټاکلې نېټه يې سرتېري له افغانستان ونه وتل. له دې ناندريو وروسته په ډېرو ولايتونو کې ناامنۍ ډېرې شوې او ملکي مرګ ژوبله يې هم لوړه کړې ده. د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د يوه راپور پر بنسټ، يوازې په يوه اونۍ کې په هېواد کې ۷۹ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. له دې ډلې ۳۹ يې وژل شوي او څلوېښت نور ټپيان دي. په وژل شوو او ټپيانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون په خپلو څرګندونو کې ويلي، چې د دې تلفاتو لامل د سړک غاړې ماينونه، مقناطيسي ماينونه او هدفي بريدونه دي. ياد کمېسيون د مرګ ژوبلې د اوښتو ډېره پړه پر طالبانو او نورو ترهګرو ډلو اچولې ده. له دې سره هممهاله يوازې په تېرو ۴۸ ساعتونو کې د هېواد په ډېرو ولسواليو او ولايتونو کې د طالبانو او افغان ځواکونو ترمنځ ډېرې نښتې هم رامنځ ته شوې دي. په دې لړ کې شاوخوا ۱۴ افغان سرتېري وژل شوي، خو افغان حکومت ادعا کوي چې لسګونو طالبانو ته يې هم تلفات اړولي دي.

د يادو پېښو تر څنګ د غزني، زابل، کندهار، هلمند او بدخشان په ځينو ولسواليو کې نښتې اوج ته رسېدلې دي. ورمه ورځ هم د ولسي جرګې ډېرو غړو په خپلو څرګندونو کې په هېواد کې روانې جګړې د جدي اندېښنې وړ بللې دي او په خبره يې د يادو ولايتونو په ولسواليو کې د نښتو له امله زرګونه کسان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي. دوی وايي چې د جګړې ښکېل لوري بايد ژر تر ژره اوربند وکړي، ځکه د بهرنيو سرتېرو د وتلو نېټه کره شوې ده او طالبانو ته نه ده پکار چې د افغانانو پر وړاندې جګړې ته ادامه ورکړي.

بلخوا په دوحه کې بين الافغاني خبرې هم په ټپه ولاړې دي. په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي ځينو غړو رسنيو ته ويلي، چې له څو اونيو راهيسې د طالبانو او افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي ترمنځ هېڅ راز ليده کاته نه دي شوي. د دوی په خبره، مذاکرات دمګړۍ په ټپه ولاړ دي او هېڅ راز پرمختګ پکې نه تر سترګو کېږي.

د استانبول غونډې ته بيا تيارۍ روانې دي او افغان حکومت په دغه کنفرانس کې د خپلو استازو د نوملړ پر نهايي کولو بوخت دی. طالبانو بيا ويلي چې د ترکيې کنفرانس د افغانستان لپاره مهم دی، خو دوی تر هغه وخته د افغانستان په اړه په جوړېدونکو کنفرانسونو کې ګډون نه کوي چې بهرنيان په افغانستان کې حضور ولري او د افغانستان په چارو کې لاسوهنه وکړي. بلخوا پاکستان بيا دا ژمنه کړې چې له طالبانو سره پر خبرو بوخت دي او هڅه کوي چې دغه ډله د ترکيې په کنفرانس کې ګډون ته وهڅوي. اروپايي ټولنې هم په خپلو تازه څرګندونو کې پر طالبانو غږ کړی چې د ترکيې په کنفرانس کې ګډون وکړي او د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره دې په خپلو کې سره سلا شي.

# روسيه: په سوريه کې مو په هوايي بريدونو کې د حکومت ضد تر ۲۰۰ وسله وال جنګيالي وژلي



د روسيې دفاع وزارت ويلي، چې د سوريې په شمال ختيځ تدمر ښار کې يې د دوی په وينا د ترهګرو پر اډو بمبارۍ کړې چې لږترلږه ۲۰۰ وسله وال پکې وژل شوي دي. دغه وزارت وايي، په دغو بمباريو کې يې دوه پټنځايونه او تر شلو ډېرې هغه لارۍ له منځه وړې چې سپکې او درنې وسلې پکې بار وې. سربېره پر دې د سړک غاړې ماينونو جوړولو يو کارځی او ذخيره يې هم ويجاړه کړې ده.

روسيه ادعا کوي، چې وسله والو د سوريې په شمال ختيځ تدمر کې يوه اډه جوړه کړې وه، چې په ګڼو ښارونو کې يې د بريدونو پلانونه پکې جوړول او وسله وال يې پکې روزل.

يادې سرچينې ويلي، دغو جنګياليو د سوريې په لويو ښارونو کې پر حکومتي بنسټونو د ترهګريزو بريدونو او په دغه هېواد کې تر ولسمشريزو ټاکنو مخکې د هېواد د وضعيت نارامولو هوډ درلود.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د سوريې ولسمشريزې ټاکنې د مې پر ۲٦مه وشي. دا په ۲۰۱۱ز کال کې د سوريې د شخړې له پيل راهيسې دويمې ولسمشريزې ټاکنې دي، چې دا ځل هم په واک کې د بشارالاسد د پاتېدو اټکل ډېر دی.

روسيې د سوريې د کورنۍ جګړې پرمهال د اسد د نظام ملاتړ کړی دی. په ۲۰۱۵ز کال کې مسکو په سوريه کې پوځي مداخله وکړه چې جګړه د واکمن نظام په ګټه تمامه کړي. د روسيې د دفاع وزارت په يوه خبرپاڼه کې ويلي: «ترهګر د حکومت تر ولکې وتلو سيمو کې روزنيز پوځي مرکزونه لري. د التنف په سيمه کې هم دوی روزنيز مرکز لري چې امريکايي ځواکونه پر دې سيمه واکمن دي».

مسکو په تېره فبرورۍ مياشت کې د سوريې په ختيځ کې د ايران پر ملاتړو ملېشو د امريکا بمباري وغندله او له واشنګټن يې وغوښتل چې په پرده کې له سوريې ووځي.

د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف هغه مهال ويلي وو چې روسيه په سوريه کې د واشنګټن پر نقشو پوهېدل غواړي. د نوموړي اشاره دا وه، چې ګنې امريکا له سوريې هېڅ د وتلو پلان نه لري.

# د کاروبار پیل

اکسوس کتابپلورنځی

له تېرو څو کلونو راپدېخوا په افغانستان کې د خلکو اقتصادي حالت له گواښ سره مخ دی، ټول په بېوزلی کې ژوند کوي، ډېر ځوانان له زده کړو وروسته بې دندې پاتې کېږي، هېواد مو په نړۍ کې د اقتصادي اړخه د تر ټولو ضعیف اقتصاد درلودونکی او تر ډېره بریده په بهرنیو تولیداتو او مرستو ولاړ دی، کورنی مارکېټ مو په بهرنیو تولیداتو پوښلی او آن دا چې د همسایه ملکونو تر ښکاره اقتصادي اغیزې لاندې ژوند کوو، د یادو ستونزو ښکاره لامل د څو کلنې اوږدې جگړې تر څنگ په هېواد کې نه پانگونه ده. دولت په یوازې ځان نشي کولی زرگونو بې دندې کسانو ته کاري فرصتونه برابر کړي؛ بلکې په دې هکله د ملي پانگوالو او زمونږ په گډون د هېواد د هر وگړي مسوولیت دی څو یادې ستونزې په فرصتونو بدلې کړو؛ دا بیا هغه وخت شونې ده کله چې هره کورنی د دولتي دندې تر څنگ د یو کوچني او متوسط کاروبار د رامنځته کولو هوډ وکړي. داسې به وکولای شي چې له ځان ورهاخوا نورو هېوادوالو ته هم کاري فرصتونه برابر کړو. افغانستان کې هر کال ډېر کاروبارونه پیل او له څنډ وروسته له ماتې سره مخ کېږي.


د یادو کاروبارونو د ماتې عمده لامل د کاروباري پوهې نه درلودل او ورته د پوره پلان او منظمې ستراتیژی نشتون دی. دا چې افغانستان کې ډېر کاروباریان د کاروبار د پیل، جوړښت، کاروباري پلان، ستراتیژیکي پلان جوړونې، د چاپېریال څېړنې، مالي مدیریت، بازارموندنې، د کمپنۍ د جوړښت او ورته نورو کاروبارونو اړوند موضوعاتو په هکله مالومات نه لري؛ نو ځکه یاد کاروباریان له لنډې مودې وروسته له ماتې سره مخ کېږي او آن دا چې د بیا را پورته کیدلو ځواک هم له لاسه ورکوي. کاروباریان اړ دي څو د یادو موضوعاتو په هکله مالومات پیدا او یا هم په دې هکله مسلکي کس په دنده وگوماري، چې د کاروبار چارې په ښه ډول سمبال کړي.

مونږ هغه ډول ژوند ته ژوند نه شو ویلی، چې په خپل سر مخ ته ځي؛ بلکې ژوند هغه دی چې مونږ یې د خپلې مفکورې او د خپل نظر له یوې زاویې څخه تر څېړلو وروسته پر مخ وړو. د هر ریښتیني انسان ریښتیني موخه دا ده، چې وکولای شي لږ تر لږه یې د کار یو مثبت اړخ د نورو د پیاوړتیا او ښېرازۍ لپاره وي.

د کاروبار پیل کتاب د هغو کسانو لپاره دی چې د کاروبار پیلولو هوډ لري؛ خو نه پوهېږي دا چاره څنگه شونې کړي. دا کتاب د هغه چا لپاره نه دی چې په تنخوا د کار کولو فکر ورسره وي، بلکې د هغه چا لپاره دی چې غواړي خپل کاروبار جوړ کړي او شتمن شي، د هغه چا لپاره دی چې له دندې ستړي شوي وي او اوس غواړي خپل کاروبار ولري، له میاشتنۍ تنخوا ستړی شوی او او س غواړي میلیونونه وگټي.

که تاسې هم غواړئ چې له رسمي دندې ورهاخوا یو شخصي کاروبار ولرئ او وشئ کولای چې ډېرې پیسې وگټئ، دا کتاب ولولئ.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | بایسته های روش تحقیق | عبدالطیف رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۲ | مبانی و اصول مدیریت | عبدالطیف رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۳ | یک سرزمین موعود | باراک اوباما/الهام شریف، فاطمه باغستانی | ۵۰۰؋ |
| ٤ | قورباغه ات را قورت بده | براین تریسی/تمنا یعقوبی و لیلا حق پرست | ۹۰؋ |
| ٥ | اخلاق نیکو | عاصم شرق/سحرهوفیان | ۱۳۰؋ |
| ٦ | په وربښمو کې دې ورک شوي سرې بادونه | عبدالباري غیرت | ۱۵۰؋ |
| ۷ | قاموس په ۴ ژبو (عربي، پښتو، دری او انگلیسي) | شاه محمود منگل | ۷۰؋ |
| ۸ | نهادها و سازمانها | دبلیو. دیچارد اسکات/مینا دده بیگی | ۲۰۰؋ |
| ۹ | مقدمات برنامه ریزی درسی | حسن ملکی | ۱۷۰؋ |
| ۱۰ | مبانی امور مالی و بودیجه | داوود صالحی | ۲۰۰؋ |
| ۱۱ | تصمیم گیری و تعیین خط مشی دولتی | سید مهدی الوانی | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | مبانی برنامه ریزی آموزشی | بهرام محسن پور | ۱۲۰؋ |
| ۱۳ | افغانستان در مسیر تاریخ جلد اول و دوم | میرغلام محمد غبار | ۱۰۰۰؋ |
| ۱٤ | سفری به سوی خوشبختی | عمرو خالد/محمدابراهیم ساعدی رودی | ۱۵۰؋ |
| ۱٥ | حقوق‌عینی | غفور احمد غزنوی | ۲۷۰؋ |
| ۱٦ | ۸۰۰ سوال و جواب کلیدی اصلاحات اداری و خدمات ملکی | نورمحمد احدی، وحیدالله قادری و شریف لله سفری | ٤۰۰؋ |
| ۱۷ | مدیریت دانش | آلن رادینگ/محمدحسین لطیفی | ۲۲۰؋ |
| ۱۸ | تاریخ معاصر افغانستان | عبدالعزیز منیب | ۱۵۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان معاصر تاریخ | عبدالعزیز منیب | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | اداره، مدیریت و رهبری | محمدرحیم مهمند | ۱۵۰؋ |
| ۲۱ | عبادت های تفکر | عمرو خالد/محمدابراهیم ساعدی رودی | ۵۰؋ |
| ۲۲ | رازهای زندگی | جمشید رسا | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | جان چو دیگر شد جهان دیگر شود | عمرو خالد/عبدالحمید گل مهر آبادی | ۱۰۰؋ |
| ۲٤ | چون سخن از دل بر آید لاجرم بر دل نشیند | عمرو خالد/سمیه اسکندری فر | ۱۰۰؋ |
| ۲٥ | علم النحو | مشتاق احمد چرتهاوی/عبدالرحمن عابد | ۳۰؋ |
| ۲٦ | اختلال وسواسی اجباری | جمشید رسا | ۵۰؋ |
| ۲۷ | خودشناسی | جمشید رسا | ۸۰؋ |
| ۲۸ | موفقیت | جمشید رسا | ۸۰؋ |
| ۲۹ | شناخت و درمان افسردگی | جمشید رسا | ۷۰؋ |
| ۳۰ | بریالی‌فکراوعمل | ستېیو هاروي/ډېوه وردگ | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**


پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دولت: نو هغه همداسې وټاکل شو؟

دوراني: هو، تر دې هم بدتره دا چې هغه د زلمي خلیلزاد په ډله پورې تړلی دی. خلیلزاد هغه افغان دی چې د امریکا پوځي، سیاسي او مالي ملاتړ له ځانه سره لري. هغه زموږ او د افغانستان لپاره یو لوی گواښ دی.

دولت: که هغه دومره پوخ امریکایی وي، نو بیا ولې د پاکستان دومره ضد دی؟

دوراني: د دې لپاره چې په افغانستان کې د پاکستان له پالیسۍ سره امریکا نه ده جوړه. هر امریکایي راپور چې د افغانستان په هکله جوړ شوی دی، د امریکا د نیمگړتیاوو یادونه یې کړې ده، خو وروستۍ څو پاڼې یې بیا په دې چورلې چې دوی به بریالي وي. که پاکستان د طالبانو ملاتړ او دوگونې لوبه نه کولی، سره له دې چې موږ څو ځله دوی ته وړاندیز کړی چې راځئ په گډه کار وکړو او د عوامو پر ضد د پاکستان له تورنولو لاس واخلئ، خو دوی بیا هم دا کار کوي. موږ ورته وایو ستاسې پوځي حضور د جگړې د دوام په مانا دی.

دولت: که چېرې دوی له دې خوښ نه وي، بیا به خپله امریکایان مخامخ له تاسې سره معامله وکړي. ولې بیا اشرف غني کاروي؟

دوراني: اشرف غني به کېدای شي دوی لکه بد پولیس داسې وکاروي. دغه افغان ولسمشر چې کله له راحیل شریف سره ولیدل، وروسته له هغې امریکا ته لاړ، هلته یې ورته وویل چې په (۲۰۱۴. ز)کال کې به امریکایان له افغانستان څخه نه وځي. یوازې د همدې لپاره هغه د طالبانو له اساسي شرط څخه چې د امریکایانو وتل دي، تېر شو. تر دې بده یې لا دا چې هغه وویل: «د امریکایي پوځ د قربانیانو په غم کې شریک دی.»

د ده په دې خبره ان طالب ضد افغانان هم خوابدي دي، زه هم خوابدی وم. په تېرو لسو کلونو کې د امریکایي بمونو له وجې درې لکه افغانان وژل شوي دي. دا شمېر د هغو دوه او یا درې زره امریکایي پوځیانو په پرتله ډېر لوړ دی.

اشرف غني د افغانستان لپاره شرم دی. دا ستونزمنه ده چې هغه دې د پاکستان ملگری وبلل شي. شپږ میاشتې وروسته هغه موږ ته وویل چې تاسې خپل رول نه دی لوبولی: «ما سیاسي قرباني ورکړه او پاکستان ته په داسې حال که درغلم چې په افغانستان کې ښه نوم نه لري.» شپږ میاشتې! افغانانو په شپږو میاشتو کې هېڅ لا نه وو کړي. دوی ډېر وخت او حوصله درلوده. هر هغه څوک چې طالبان پېژني، پوهېږي چې هغوی به شپږ میاشتې تم شي، تر څو ووینې چې تاسې څومره جدي یاست!!!

دا چې اشرف غني داسې انگېرله چې پاکستان ته به په خپل یوه سفر سره په سیمه کې په خپله خوښه بدلون راولي، په ټوله کې دا انگېرنه سمه نه وه. موږ اشرف غني ته په ښه سترگه د کتلو هېڅ دلیل نه لرو.

دولت: تاسې د افغانستان لوبېدل څنگه ارزوئ؟

سېنها: له ټرمپ سره کوم نوي څه شته؟

دوراني: په تېرو پنځو شپږو کلونو کې نوي شیان ترسره شوي دي. د بېلگې په توگه، په (۲۰۱۱. ز) کال کې یو نوی لوری د جوړېدو په حال کې و. پاکستان، ایران، روسیه او چین. په (۲۰۱۲. ز)کال کې چې زه مسکو ته تللی وم، ما وموندل چې دغه هېوادونه د افغانستان د پالیسۍ په هکله سره همغږي کېږي. ایرانیان او روسان دواړه له طالبانو سره خبرې کوي. چینایان وایي، تاسې خپل کارونه مخ ته یوسئ، که چېرې د سیمې هېوادونه په گډه کار وکړي، موږ به هم خپل رول پکې ترسره کړو.

ښه ده چې دلته یو بل څه هم یاد کړم. د (۲۰۱٦. ز)کال په نیمایي کې په الجزیره کې زه له مایکل فلین سره مخکې له دې چې د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار وټاکل شي، د افغانستان د یوه بحث په هکله مبلمه وم. هغه ویل پاکستان او امریکا د یو اړخیزو شخصي گټو لپاره هڅې کولې، په امریکایي ښه د دې ټکي د تأکید لپاره هڅه دویم منفي عمل و لکه «ته په هېڅ نه پوهېږې» - ما فکر کړی و چې هلته یو صادق کس دی چې ته ورسره کارو بار کولای شې. هغه په دې مشهور و چې د مسلمانانو ضد دی، خو روسان به هم هغه له یاده ونه‌باسي کله یې چې وشړلو.

دولت: ښکاره خبره دا ده چې هند ټرمپ ته لېوالتیا لري، تر څو له دې څلورو سره مقابله وکړي، کوم چې ان د اوباما په وخت کې منځ ته راغلي وو او په هغه وخت کې موږ د امریکې سره ځانگړې اړیکې درلودې. د هند او امریکا اړیکې به نورې هم نږدې شي. دا چې موږ به پکې څه ترلاسه کړو او کنه، په دې زه نه پوهېږم. ځکه له هستوي معاملو پرته نور نو موږ هر څه بایللي دي. موږ لا هم په افغانستان کې هماغسې پالیسي لرو. موږ په امریکا له حده زیات متکي یوو. لکه اشرف غني موږ هم نه یوو خوښ، چې امریکا ووځي، ځکه موږ فکر کوو چې امریکا هلته زموږ ملاتړ کوي.

کله چې چین اعلان وکړ، چې موږ له طالبانو سره خبرې کوو، ماته اندېښنه پیدا شوه چې په دې کې موږ چېرته یوو. ډېر کلونه تېر شول او د دې امکانات وو چې موږ له طالبانو سره اړیکې جوړې کړو، خو موږ و نکړې. موږ داسې باور نه لرو چې امریکایان هر څه کوي، هغه سم دي او نور ټول غلط دي.

**دوام لري...**

همیانۍ

# بې هدفه اوسېدل

ژباړه: امان الله حنيفي

که له یو معمولي کس وپوښتئ چې له ژونده مو هدف څه دی، حتماً به یې له جینکي څېرې او «نه پوهېږم» ځواب سره مخ شی. که همدا پوښتنه له تاسې وکړم، څه ځواب به راکوی؟ یو معمولي او عادي کس نه شي کولای چې د خپل ژوند هدف بیان کړي، هدف هماغه قانع کوونکی دلیل دی چې هغه مو دې ته هڅوي، څو هره ورځ سهار وختي له خوبه راپاڅېږی او د خپل ماموریت د سر ته رسولو لپاره لازم اقدامات وکړی.

حقیقت دا دی چې یو معمولي کس ژوند ته یوازې د شپې او ورځې تېرولو په سترګه ګوري او یوازې له ژوندي پاتې کېدو پرته بل هېڅ کوم هدف نه لري. ډېری کسان یوازې پر همدې نن ورځې تېرېدو تمرکز لري، دوی تر ټولو اسانه لار انتخابوي، د دې لارې د اوږدو پر مهال یوازې د لنډمهاله خوندونو د څکلو په لټه کې دي او له هرې هغې سختۍ او زحمته چې د دوی د ښه والي او پرمختګ ضمانت کوي، ځان پټوي. زما لاسته راوړنې هم پرله‌پسې نه وې او تر ډېره مې پر هغه څه قناعت کړی و چې زه یې وړ وم. بالاخره هماغه وو چې پر معمولي اوسېدو برلاسی شوم: «هدفمند ژوند کول»

له هغه وروسته چې د پېژندل شوو کسانو تالار ته مې لار پیدا کړه، هغه وخت را ورسېد چې د یو لیکوال، ویناوال او یو لاربښود کېدو موخه مې تعقیب کړم. که څه هم په هغه شرکت کې مې هېڅ وخت هم خپلې ټولې توانایی نه وې لاسته راوړې، خو بیا مې هم وغوښتل چې ځان ته پر معمولي اوسېدو ترجیح ورکړم. باوري وم چې که د دې مسئلې د حل په اړه فکر ونه کړم، په راتلونکي کار کې به بیا هم له دې ستونزو سره مخ وم.

تر دې وخته مې هېڅ کوم داسې هدف نه درلود چې ما د وهڅوي، حتی په هغو ورځو کې هم چې په ډېره مینه به سهار وختي پاڅېدلم. هېڅ داسې عادت مې نه درلود چې زه د ټلیفون راواخلم او له خپلو مشتریانو سره د اړیکه ونیسم، حتی هغه وخت هم چې ډېرو پیسو ته مې اړتیا هم درلوده. ما هماغه شېبه تصمیم ونیو چې د ځان لپاره ۱۲ میاشتنی هدف داسې تعریف کړم: «پر هغه کس بدلېدل چې زه یې غواړم، د خپلې خوښې وړ بریا لاس ته راوړل، ازادي او د ژوند هغه خوند څکل چې زه یې واقعاً غواړم.»

ما مې دا هدف د ژوند له بل هدف سره یوځای کړ (هو، تاسې کولای شی چې له یوه زیات هدفونه ولری)، هغه هدف دا و چې له ځان غوښتنې لرې د نورو په ژوند کې ارزښت رامنځ ته کړم. پر دې اساس مې د پلورونکو استازو ۱۶ کسیز ټیم جوړ کړ. د ۴۶ پرله‌پسې وړیا اونیزو کنفرانسونو په جوړولو سره مې له هغوی سره مرسته وکړه، څو خپلو موخو ته ورسېږي.

د دوو اصلي موخو د تر لاسه کولو لپاره ژوند کول او د خپلو افکارو، کړنو او خبرو د همغږي کولو لپاره پرله‌پسې د هڅو په نتیجه کې نه یوازې دا چې ما تر ټولو ډېر پلور تجربه کړ او پخوانی د رکود حالت مې ۹۴ سلنه بیرته راسم کړ، بلکې د خپلو شاوخوا پلورونکو په مرسته وتوانېدم چې د دې شرکت ۵۰ کلن تاریخ کې د ښې پایلې لاسته راوړلو ریکارډ جوړ کړم.

د معمولي اوسېدو پر دې دلیل د برلاسي کېدو لپاره تاسې باید په ژوند کې هدفونه ولری، دا هدف هر هغه څه کېدای شي چې ستاسې زړه یې وغواړي. دا هدف هرڅه کېدای شي څو تاسې ته سهار وختي د پاڅېدو انګېزه درکړي او ټول ژوند مو هغه ته د رسېدو پر لار برابر کړي.

خو دا په یاد لری چې خپله باید ځان ته هدف وټاکئ. کېدای شي دا هدف په لومړیو کې ساده او وړوکی وي «غواړم چې ډېر وخاندم، څو په شاوخوا کسانو کې یوه شېبه خوښي راولم» یا «غواړم چې له هر چا سره چې مخ کېږم له هغه وپوښتم چې څه مرسته درسره کولای شم؟ څو په دې لارې سره وکړای شم چې د نورو په ژوند کې ارزښت رامنځ ته کړم» دا کېدای شي ستاسې په ژوند کې د یو لوی هدف پر لور د یو ګام اخیستل وي.

دا په یاد لرئ چې تاسې هر وخت کولای شی د خپل ژوند هدف بدل کړی. هماسې لکه تاسې چې پرمختګ او وده کوی، هدف مو هم پرمختګ کوي او ورځ تر بلې ورته نږدې کېږی. یوازې هغه څه چې مهم دي، هغه د ځان لپاره د هدف ټاکل او د خپلې خوښې وړ ژوند ته د رسېدو پر لار برابرول دي. حتی تاسې کولای شی له هغو هدفونو هم استفاده وکړی، کوم چې ما تاسې ته وښودل. ډېری زده کوونکو مې همدا کار کړی دی.

دا په یاد لرئ، دا مهمه نه ده چې تاسې مو د ژوند هدف کشف کړی، بلکې تاسې باید هغه خلق کړئ، هغه جوړ کړئ او تصمیم ونیسئ چې تاسې څه غواړی. متیو کلي په خپل تر ټولو زیات پلورل شوي کتاب کې مونږ په ژوند کې د یو کلي هدف ټاکلو ته وربولي، چې زما په نظر موږ ټول باید پر همدې اساس ژوند وکړو. څو وشو کولای چې په تر ټولو ښه بڼه راڅرګند شو. یا په بله وینا، موږ باید خپل ټول تمرکز پر خپل پرمختګ او د هدفونو پر لاسته راوړلو ولرو او نور هم دې کارونو ته وهڅوو. دا ستاسې هدف دی.

په همدې اونۍ کې مو د ژوند د هدف ټاکلو لپاره وخت ځانګړی کړئ. د ژوند هدف مو پر یوه داسې ځای ولیکئ چې هره ورځ مو سترګې پرې ولګېږي. رښتیا د دې لپاره تر ټولو ښه وخت سهار وختي دی.

دا هر وخت په یاد لرئ چې د خپلو ستونزو په پرتله لوی هدف ته ژمن پاتې کېدل، ستاسې پر وړاندې ستونزې بې ارزښته کوي او بیا تاسې په اسانۍ سره کولای شی پر هغه برلاسي شي.

## د بې پولې خبریالانو ټولنه: افغانستان لا هم د خبریالانو لپاره تر ټولو خونړی هېواد دی

د بې پولې خبریالانو ټولنې له افغان حکومت غوښتي د خبریالانو د هدفي وژنو په تړاو دې جدي پلټنې وکړي. د دې ټولنې په تازه ډلبندۍ کې افغانستان د ۱۸۰ هېوادونو په کتار کې ۱۱۲ ځای لري.

د یادونې ده چې د بې پولې خبریالانو ټولنه هر کال په نړۍ کې د رسنیو د ازادۍ په اړه د خپلې ډلبندۍ رپوټ خپروي، چې وایي په ۱۳۰ هېوادونو - یعنې د نړۍ د ټولو هېوادونو په سلو کې ۷۳ کې په بشپړ یا نسبي ډول خبریالي له خنډ او ځنډ سره مخامخ شوې ده.

یادې ټولنې زیانه کړې چې افغانستان لا هم د خبریالانو لپاره ناوړه ځای دی. د محدودیتونو لګېدل او د خبري پوښښ خنډ او ځنډ د خبریالانو له اصلي ستونزو ګڼل شوي دي.



په دغه راپور کې کرونا وبا ته په اشارې پر ګڼو هېوادونو نیوکې شوې، چې د خبریالانو پر کارونو یې هم محدودیتونه لګولي دي. د بې پولې خبریالانو د ټولنې په راپور کې د افغانستان په اړه خبرداری ورکړل شوی، چې د خبریالانو هدفي وژنې رسنیو ته یو لوی ګواښ دی.

په راپور کې راغلي: «په افغانستان کې پر کووېډ-۱۹ ویروس سربېره، په دغه هېواد کې یو بل ویروس هم زیان رسوونکی دی. د سخت‌دریځۍ له تاوتریخوالي ډک ویروس چې خبریالان، په تېره ښځینه خبریالانې پکې په ښه شوې دي».

دا په داسې حال کې ده چې په تېر یوه کال کې په افغانستان کې په وسله والو بریدونو کې ۱۰ خبریالان او د رسنیو کارکوونکي وژل شوي دي چې د ډېریو د مړینې مسوولیت یې هم چا په رسمي توګه نه دی منلی.

د دغه راپور پربنسټ، یوازې په ۲۰۲۰ کال کې، لږترلږه شپږ خبریالان او د رسنیو کارکوونکي په هدفي ډول وژل شوي. د روان میلادي کال له پیله تر اوسه څلور نور خبریالان وژل شوي دي. دا راپور افغانستان په نړۍ کې د خبریالانو لپاره لاهم خونړی هېواد بولي. په دغه راپور کې د اروپا شمال په ټوله کې د نورې نړۍ پرتله د رسنیو لپاره یوڅه غوره ګڼل شوی دی.

## قریشي: طالبان دې د افغان سولې په بهیر کې له نرمښت کار واخلي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي، د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې ځنډ تل د لوجستیکي مسایلو په خاطر ممکنه وي، خو اوس چې د ده په خبره، طالبانو د بهرنیو ځواکونو د ایستلو هدف تر ډېره ترلاسه کړی، ښه ده چې نرمښت ښکاره کړي.

هغه له رویټرز اژانس سره په یوه مرکه کې ویلي، طالبان خپلې پرېکړې په خپله کوي، خو پاکستان څومره چې وس رسېږي، هڅه به وکړي دا ډله قانع کړي چې د ملي ګټو په خاطر د افغان سولې په پروسه کې ښکېل پاتې شي.

طالبانو وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر جو بایډن په ځنډ د بهرنیو ځواکونو وتل اعلان کړل، په یوه اعلامیه کې یې وویل، څو چې بهرني ځواکونه نه وي وتلي، په هېڅ غونډه کې ګډون نه کوي.



د امریکا د نوې پرېکړې پر اساس له افغانستانه د پاتې بهرنیو ځواکونو وتل د مې په لومړۍ نېټه پیل او د سپټمبر تر ۱۱ مې بشپړېږي. پاکستان داسې مهال د افغان سولې په پروسه کې د طالبانو د ښکېل ساتلو ژمنه کړې چې راتلونکې شنبه ( د اپرېل په ۲۴مه) په ترکیه کې د افغانستان د سولې په اړه یوه نړیواله غونډه پلان شوې.

تازه د افغانستان جمهور رییس په لړ تر لړه دوو وروستیو ویناوو کې پر پاکستان غږ کړی چې د افغانستان د ورانولو او ابادولو تر منځ یو انتخاب وکړي. جمهور رییس ویلي، نړیواله ټولنه باید په افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو او تلپاتې سولې د ټینګښت په خاطر لازم ضمانتونه ورکړي.

د راپورونو پر اساس هڅې روانې دي چې طالبان په غونډو کې د نه ګډون له پرېکړې را وګرځول شي او د استانبول غونډه کې چې امریکا او ټولو ښکېلو هېوادونو د افغانستان لپاره حیاتي بللې، دا ډله ګډون ته وهڅول شي.

په ورته مهال د پاکستان لپاره د افغانستان د ولسمشر ځانګړي استازي محمد عمر داوودزي ورمه ورځ ازادي راډیو ته ویلي، ښه ده چې طالبان د افغانانو او نړیوالو غږ واوري.

نوموړي ویلي: «د طالبانو څخه د افغانستان د خلکو هم دا هیله ده د مختلفو اقشارو او د نړۍ او سیمې هم هیله ده چې دوی په دې کنفرانس کې ګډون وکړي. دا فُرصتونه دي چې که د دوی اشتراک پکې ونه شي، بیا دا له لاسه ځي. امریکا هم له طالبانو سره په جریان کې ده تشویقوي یې چې ګډون وکړي. د قطر دولت هم ورسره په جریان کې دی. او پاکستانیانو هم ماته وویل چې دوی هم کوښښ کوي، لګیا دي چې طالبانو ته قناعت ورکړي چې دوی اشتراک وکړي.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٦٥ |
| € | ۹۲,٦ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۰٦٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,٥۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي

مرستیال: شفیق امیرزی

اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي

خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

ګرافیک او ډیزاین: ارمان

چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غويي لومړۍ | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۱ | ۷۱۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

چهارشنبه ۱۴۰۰/۰۲/۰۱

د سهار اذان ۰۳:۴۳ د ماښام اذان ۰۶:۳۵

| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۲۱ | ۳۰ | ۳۲ | ۲۸ | ۳۳ | ۲۲ |
| ▼ | ۷ | ۱۳ | ۱۵ | ۱۸ | ۱۵ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۴۳ | لمر ختل ۰۵:۱۷ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۴:۳۶ | ماښام ۰۶:۳۵ | ماخوستن ۰۷:۵۴

## نړۍ



# روسیه: په سوریه کې مو په هوايي بریدونو کې د حکومت ضد تر ۲۰۰ وسله وال جنګیالي وژلي

۳

## اروپايي ټولنه: د ایران د اټومي تړون په بیا عملي کولو په هڅو کې پرمختګ شوی



د اروپايي ټولنې د بهرني سیاست مشر جوزېپ بورېل ایران او امریکا ته په اشارې ویلي چې په دواړو خواوو کې هوکړې ته د رسېدو لپاره ښه نیت موجود دی. بورېل ویلي، له ایران سره د اټومي تړون مذاکرات له عمومي مسایلو اختصاصي مسئلو ته داخل شوي. هغه زیاته کړې: «تېره اونۍ د ایران د اټومي تړون پر سر خبرې له عمومیاتو لا پسې متمرکزو مسئلو ته ورسېدې؛ لکه، د بندیزونو لېرې کول او په دواړو خواوو کې د اټومي پروګرام اجرایي مسایل. کار روان دی. د پرمختګ څرک شته او دا حقیقت چې امریکا بیا له تړون سره یوځای کېږي او د تړون بشپړ ترسراوي ته ګرځي، نړۍ لا خوندي کوي.» د یادونې ده چې له ایران سره د نړۍ لویو اټومي قدرتونو په ۲۰۱۵ میلادي کال کې اټومي تړون لاسلیک کړ. دغه تړون د دې تر څنګ چې له ایرانه بندیزونه لېرې کړل، دا هېواد یې د اټومي پروګرام په برخه کې له نړۍ سره هوکړه شویو مسایلو ته په پابندۍ مسوول وګرځول شو. د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ چې ایران یې په جدي سرغړونو تورناوه، له اټومي تړونه ووت او په دغه هېواد یې تر ټولو سخت بندیزونه ولګول. ایران هم په تړون کې له خپلو ژمنو په تدریجي توګه تېر شو، له هغې ډلې یې د اټومي انرژۍ د نړیوال سازمان د څارونکو مخه ونیوله، د یورانیمو شل او ۶۰ سلنه بډاینه یې پیل کړه، د فلزي یورانیمو تولید یې پیل او د یوارنیمو د بډاینې د سرعت د زیاتوالي لپاره یې پرمختللي سنټرفیوژونه په کار واچول.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مثبتو پېښو شمېر نږدې ۱۴۳ میلیونو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۴۲ میلیونه او ۸۳۲ زره او ۱۰۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۴۶ زره او ۳۸۰ کسان مړه شوي او له ۱۲۱ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۲میلیونه او ۴۷۵زره او ۴۳ ته رسېدلې او ۵۸۱ زره او ۵۴۲ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۵ میلیونه او ۳۲۱ زره او ۸۹ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۳ میلیونه او ۹۷۷زره او ۷۱۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او۲۹۶ زره او ۲۲۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او۷۱۸ زره او ۸۵۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## همدرد: حکومت طرح واحدی برای نشست استانبول ندارد



جمعه‌خان همدرد، رئیس اتحاد شوراهای حزب اسلامی افغانستان در یک نشست خبری در کابل می‌گوید که حکومت افغانستان نتوانسته است طرح واحدی را برای نشست استانبول آماده کند. به گفتۀ رئیس اتحاد شوراهای حزب اسلامی افغانستان، طرح ارایه‌شده از سوی کمیتۀ توحید شورای عالی مصالحۀ ملی همه‌شمول نیست و در این زمینه با احزاب سیاسی رای‌زنی صورت نگرفته است.

او می‌گوید: «با وجود این‌که از سوی جناح‌های مختلف طرح‌های معتدد صلح ارایه شده است؛ ولی تاکنون حکومت افغانستان، شورای عالی مصالحۀ ملی و جریان‌های متعدد سیاسی فاقد طرح واحد مصالحه بوده و نتوانسته‌اند یک طرح واحد ملی و همه‌شمول ارایه کنند.»

آقای همدرد می‌افزاید، در صورتی که حکومت با طرح واحد و همه‌شمول در نشست استانبول حضور نیابد، بیم آن می‌رود که این نشست به نتیجۀ مطلوب نرسد.

اما فریدون خوئون، سخنگوی شورای عالی مصالحۀ ملی می‌گوید که پیش‌نویس ارایه‌شده از سوی این شورا واحد و همه‌شمول بوده و در آن دیدگاه تمام احزاب سیاسی درنظر گرفته شده است. او می‌گوید: «آماده‌گی‌های ما برای حضور در نشست استانبول گرفته شده است و ما در پی آن هستیم که با یک طرح واحد در این نشست حضور داشته و طرح خود را ارایه کنیم.»

## ژوند


## د هډوکو د قوت لپاره د پنیر ګټې



د هډوکو کمزوري د (استیوپوروسس) ناروغۍ سبب ګرځي او لامل یې د ویټامین ډي او کلسیم کمښت په ګوته شوی، نو پنیر چې په خپل جوړښت کې په ځانګړې کچه ویټامین ډي او کلسیم لري، د هډوکو لپاره ګټور تمامېږي. له یوې څېړنې معلومه شوې چې د پنیر په استعمال د غاښونو پر شاوخوا میکروبونه نه راټولېږي. د پنیر د خوراک د اندازې په اړه ویل کېږي چې له اړتیا ډېر پنیر استعمالول ښه نه وي، ځکه چې له غذايي توکو ډک وي او کالوري هم ډېره وي چې بیا د چاغښت سبب کېږي. که چېرته مو بدن پروټینو ته اړتیا لري، نو هڅه وکړئ چې په خپلو خوراکي توکو کې پنیر استعمال کړئ. ډېر شیان د ویټامین بي ۱۲ درلودونکي وي، خو د پنیر په جوړښت کې بیا د یادو ویټامینو کچه ډېره ده، خو که چېرته له بازاره پنیر اخلئ، نو ویې ګورئ څو د لږ سوډیم لرونکي پنیر واخلئ. له ډېرو څېړنو وروسته موندل شوې چې شیدې او پنیر د عامو سرطاني ناروغیو مخنیوی کوي.

## شیاومي دوه نوي لپټاپونه بازار ته وړاندې کړل

شیاومي کمپنۍ په چین کې د یوې غونډې له لارې خپل دوه نوي لپټاپونه معرفي کړل. دغه لپټاپونه شیاومي مي لپټاپ پرو ۱۴ (Xiaomi Mi Laptop Pro ١٤) او شیاومي مي لپټاپ پرو ۱۵ (Xiaomi Mi Laptop Pro ١٥) نومول شوي دي. مي لپټاپ پرو ۱۴ کې ۱۴ انچه اولېډ ډوله مخپاڼه ورکړل شوې چې ۲,۵کې (۲۵۶۰*۱۶۰۰ پکسله) ریزلوشن لري او مخپاڼه یې له ۱۲۰ هرتز ریفرېش ریټ څخه هم ملاتړ کوي. دغه لپټاپ دوه مختلفې بڼې لري چې یوولسم جنرېشن اینټل کور ای۵ یا اینټل کور ای۷ پروسېسر او د انوېډیا جي فورس ام اېکس۴۵۰ ډوله ګرافیکس یا د اینټل کمپنۍ ایرېس اېکس اي ډوله ګرافېکس به ولري. د دغه لپټاپ بیه تقریباً له ۵۵۵۰۰ افغانۍ څخه پیلېږي. مي لپټاپ پرو ۱۵ د ډیزاین او ځانګړنو له نظره مي لپټاپ پرو ۱۴ ته ورته ده، خو د ۱۴ انچه پر ځای ۱۵ انچه ۳,۵ کې (۳۴۵۶*۲۱۶۰ پکسله) ریزلوشن لرونکې مخپاڼه لري. دغه لپټاپ هم مي لپټاپ پرو ۱۴ ته ورته بڼې، رم، پروسېسر او هارډ دېسک لري او بیه یې تقریباً ۷۶۵۰۰ افغانۍ څخه پیلېږي.



## د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په ای ټی ام او ماسټر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.





www.azizibank.af 1515